**مطبوعاتي وينا**
**جولای ۲۷، ۲۰۱۰**
**يوناما د ملکی وګړو د ساتنې په مسووليت باندې ټينګار کوي**

يوناما د هلمند ولايت د ريګی په کلی کی د ملکي وګړو د تلفاتو په باب له راپور څخه ډير اندېښمن دی. دا ډيره ضروري ده چې د ايساف او د افغان حکومت څيړنې په شفافه، بشپړه توګه او په خپل وخت سره ترسره شي او د هغې موندنې څومره چې ژر شونې وي خپرې شي، د يوناما د بشري حقونو څانګه هم چنان د دې مسالی په باب معلومات راغونډوي.

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی او د يوناما مشر دې مستورا وويل: "په داسې حال کې چې حکومت او ايساف په ريګی کې د حقايقو د پيدا کولو په لټه کې دی، چيرې چې دا راپورونو له مخې ډير شمير ملکي کسان وژل شوي او ژوبل شوي دي، زه يو ځل بيا په دې اړتيا ټينګار کوي، چې ټولې خواوې د ملکي کسانو د ساتلو ژمنې ترسره کړي."

د نړيوال قانون لاندې په پوځي شخړه کې ټولې ښکيلې خواوې مسووليت لري چې د ملکي کسانو ساتنه وکړي او په ملکي وګړو او ملکي موخو لکه ښوونځيو او روغتونونو باندې د خپلو بريدونو اغيزې راښکته کړي. ټولې ډلې بايد په لاندې ډول ژمنې واوسي:

- بايد په ملکي وګړو او ملکی موخو بريد و نکړي.
- په هغو ځايونو بريدونه ترسره نه کړي چيرې چې د پوځي پرمختګ له امله ملکی وګړي او شتمنيو ته ډيره مرګ ژوبله او زيان اوړي.
- بايد د ملکي وګړو ساتنې ته دوامداره پاملرنه وشي او د ملکي وګړو وژنې او ټپي کيدو څخه د مخنيوي په موخه ټول ممکن اقدامات ترسره شي.
- د بريدونو څخه د جنګياليو د ساتنې په موخه بايد د ملکي وګړو څخه د انساني ډال په څير کار وا نه اخيستل شي.

دی ميستورا وويل: د هر ملکی وګړی د تلف کيدو پيښنه يوه تراژيدی ده، او موږ خپل مخلصانه تسليت د دی وګړو د کورنيو غړو او ټولنی ته وړاندی کوو او د هغه وګړو لپاره چی ټپيان شوي دي چټکه روغتيا غواړو.

د يوناما د بشري حقونو څانګه په هيواد کې په پوځي شخړو کې د ملکي کسانو وضعيت څيړي او د ۲۰۰۶ کال راهيسې د هغوي د ساتنې په موخه هڅې همغږې کوي. د ملکی وګړو ساتنه د دې ماموريت د لومړيتوبونو څخه ده.

**د ايډيټورانو لپاره يادداشت:**

د يوناما د بشري حقونو څانګه په دې ټينګار کوي چې په ملکي وګړو باندې د شخړو اغيزې کمې شي: دغه څانګه د ملکي وګړو د تلفاتو د ځانګړو پيښو په اړه معلومات تحليلوي، تحقيقات او څارنه کوي. (هغه تلفات چې په شخړه کې د ښکيلو ټولو خواوو له خوا ملکي وګړي وژل شوي يا ژوبل شوي دي). دغه څانګه د ملکي کسانو د تلفاتو په اړه په منظم ډول راپورونه خپروي، او داسې تدابيرو پلوي کوي، چې د شخړو په ذريعه د ملکي کسانو په وژنه، ژوبلې او زيان کې کمې راولي.

يوناما په راتلونکو اونيو کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپل شپږ مياشتنی راپور خپروي، چې د دې کال له جنوري څخه تر جون پورې په ملکي وګړو باندې د شخړو اغيزې په مفصل ډول بيانوي.